# له کلفورنیا څخه

## د پوهاند محمد حسن کاکړ پیغام

**دکندهار پوهنتون دعلمي څېړنغونډې محترمو منتظمانو !**

لومړی تاسو ټولوته مبارکي وایم چې ددغسې یوه علمي سمينار ترتيب مو نيولی چې په هغه کې به دتېرو څلويښتو کلونو په موده کې په افغانستان کې دملي ژوند دهر اړخ په اړه بلل شوي پوهان، متخصصان، او دنظريو خاندوان خپلې وينا وې واوروي دايو ډېر ګټور نوښت دی چې دافغانستان په يوه پو هنتون کې دلومړي ځل لپاره وړاندې کيږي هغه هم په دغو مره پراخ ډول. په دغه ډېر مهم او د ارزښت وړ نوښت کې ستا سو ټولو بری غواړم، او هيله کوم چې ستا سو دغه ګټور نوښت به دګران هېواد نورو پوهنتونونو، او داسې هم دعلمي، ادبي، او فلسفي ټو لنو جملوونکو ته سر مشق شي او په وطن کې ديوه ګټور خو ځښت لامل وګرزي، دغسې خو ځښت ته اړتيا هم حس کيږي چې په هغه سره به حساس او دلوړ شعور خاوندان دېته ښه ځيرشي چې په دغه موده کې زموږ په ګران وطن کې څه ډول پيښې راغلې او څه ډول اثرونه يې وکړل، او اوس دهغوپه پلټنو ، اوکتنو سره بايد څه وشي.

زه باورلرم چې ددغه ضرورت په احساس سره تاسو دخپلوښوونو په څنګ کې ددغه ګټور سمينار په جوړولو کې ډېر رېړونه ګا للي دي يو ځل بيا وايم چې تاسو په رښتيادقدر وړکار کړی دی، اوبری موغواړم خو يو څه خواشينی هم يم، په دې چې ما په خپله ونه شو کولی په دغه سمينار کې ګډون وکړم په دې ډول ستاسو بلنه مې پرځای کولی ونه شوه. دهغه پرځای مې "دافغان نزدې تېره" په نامه يوه وړه ليکنه درواستوله چې هيله ده تر يوه حده به هغه زما استازيتوب وکړي.

(په درنښت او ستا سي دبري په هيله )
پوهاند محمد حسن کا کړ